محمدنعمان دوست
۲۰۲۵/۱۰/۱۶

# نمک حرامه څوک دي؟

نن سبا يو ځل بيا اخوا، هر ويناوال په ډېرې سپين سترګۍ افغانان نمک حرامه ګڼي او په هره وينا کې دا احسان باروي چې ګوندې موږ ۴۵ کاله د افغانانو ميزباني کړې ده او دوی زموږ د مېزبانۍ درناوی نه کوي!
که څه هم کله چې د وطن بحث مطرح کيږي، څوک بې طرفه نشي پاتې کېدای؛ خو زه به حقيقت ته د صدمې نه رسولو په پار، په دې اړه پوره بې طرفي وساتم .
افغانستان د پاکستان په زيږون ناراض و، ځکه حساب يې ور سره پاتې و او پا کستان هم له خپل جوړښت سره سم د افغانستان د کمزورۍ په لټه کې شو. ځکه پوهيده چې که چيرې افغانستان پياوړی شي؛ نو شايد هغه سيمې ترې بيرته واخلي چې په زور د دوی له ننۍ جغرافيې سره د ډيورنډ منحوسې کرښې په ذريعه کوشير شوې دي .
پاکستان تل يوې موقع ته منتظر و، داسې موقع ته چې د افغانستان د کمزوره کولو استفاده پکې ممکنه وي. دې موقع د داود خان د جمهوريت په لومړنيو کلونو کې يو شين څراغ ورکړ او هغوی ورته لاسونه وپړکول. په همدې دوره کې ځينې کسان، چې وروسته د تنظيمونو مشران يا لوړ موقف والا خلک شول، د پاکستان غيږې ته ورغلل، هغوی ورته پر سر د نوازش لاس تېر کړ او د خپلو اهدافو لپاره يې ورته پالنه پيل کړه. دا يې د خپلو خوبونو د رښتيا کيدو لپاره يو اغاز و او دا اغاز يې هله بختور وګڼه چې د داود خان پر ضد خلقيانو+ پرچميانو، خونړۍ کودتاه وکړه، يو مستحکم او په سيمه کې د حساب وړ افغانستان يې کاواکه کړ او بيا د سره پوځ يرغل ته زمينه مساعده شوه.
له کودتاه وروسته، د حالاتو جبر او جمع تبليغاتو د کډوالۍ لړۍ چټکه کړه. د خواصو په ځای عوامو هم له خپل وطنه کډې بار کړې. دا لړۍ د سره پوځ له يرغل وروسته،چې پر افغانانو خپل وطن سور تنور شو، لا پسې چټکه شوه او د کډوالو شمېره ميليونونو ته ورسيده.
افغان ولس د خپلو سرونو او عزتونو خوندي کولو لپاره دوه ګاونډيو هيوادونو ته مخه کړه او په اکثريت مطلق همدې دوو کې ميشت شول، يعنې پاکستان او ايران.
پاکستان، د ايران په پرتله افغان کډوالو ته ډيره ازادي ورکړه. د زدکړو، کاروبار، پانګونې، صحت او... لپاره ورته شرايط دومره اسانه شول چې له ځايي خلکو سره يې چندان توپير نه کيده .
خو د دې په مقابل کې کوربه هيواد هم پريمانه ګټې وکړې چې تل پر هغو برخو سترګې پټوي او په دې توګه خپله اصلي نمک حرامي څرګندوي.
کوربه هيواد له دې ميزبانۍ دوه مهمې ګټې ترلاسه کولې:
اول – د کډوالو او تنظيمونو لپاره پريمانه مالي، خوراکي او نظامي مرستې پاکستان ته را چالان شوې چې د ويش واک يې له دوی سره و او طبيعي ده چې خپل اقتصاد او پوځي طاقت يې پرې ښه سم برابر کړ.
دويم – د کډوالو سره د مرستو د ويش او انسجام لپاره، د بهرنيو په مرسته په سلګونو او حتا په زرګونو په لويه او وړه کچه اداري رامنځته شوې او پريمانه پاکستانۍ بشري قوه پکې په کار وګومارل شوه .
له ټولو مهمه دا چې پاکستان، په افغانستان کې له رواني جګړې من من غوښه اخيسته، ځکه پوهيده چې دا جګړه افغانستان کمزوری کوي او د دوی ستر هدف هم، همدا و. دوی دغه جنګ ته د خپل وطن د بقاء جنګ وايه او زموږ تنظيمي مشران به هم په ښکاره په هغو غونډو کې مست مست کېدل چې پاس په باينر به ليکل شوي و: جهاد افغانستان، دفاع پاکستان! هيڅ يوه کې دا افغانی غرور پيدا نشو چې ووايي: دا باينر ليرې کړئ، موږ ستاسو د دفاع لپاره جهاد نه کوو، موږ خو څه ستاسو اجرتي لښکري نه يوو. موږ له سره پوځه خپل وطن ازادوو .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

کډوالو ته چې هغه وخت کوربه خوشاله و علت یې دا و چې له یوې خوا یې د دوی په نوم راغلې پریمانه مرستې ترلاسه کولې او له بلې خوا دا کډوال په افغانستان کې د روانې جګړې د جارې ساتلو لپاره ستر ریزرفي ځواک و . پاکستان د شورویانو او د هغوی د ملګرو په واکمنۍ کې جنګ د اسلامي اخوت او د اسلامي نظام د قایمیدو تر نوم لاندې تشویقاوه؛ خو کله چې همدا جهادي ډلې واک ته ورسیدې، نو بیا یې د هغوی له خپلمنځي جګړو هم خوندونه واخیستل او هم فایدې. د همدې ډلو په مټ یې د افغانستان پوځي وسایط روغ او کباړ ترلاسه کړل، په تاریخي اثارو یې د جنرالانو حجرې او موزیمونه ښایسته کړل، د فابریکو ماشینونو ورته ورسیدل او....
دا څنګه امکان لري چې همدې تنظیمونو کیمپونه چې هلته له یو بل سره په لنډه فاصله کې ول، پر یو بل حتا د تومانچې ډز نشو کولای، خو دلته یې پر یو بل بیم چهل، بیم دوازده، اوراګان، سکربیست، توپونه سپکې او درنې وسلې چلولې او بمبارونه یې کول؟ پاکستان کولای شول، هماغسې یې له جګړو منع کړي لکه څنګه چې یې خپل وطن کې منع کړي و، خو دا کار یې ځکه نه کاوه، چې افغان وطن ورانیده او د یوه منظم حکومت د جوړیدو مخه نیول کیده .
زموږ په اړه د دوی کړنلاره ثابته او روښانه ده، دومره ثابته چې په هیڅ ملکي او نظامي حکومت کې تغییر نه خوري. هغه دا چې افغانستان کې که هر حکومت وي، باید کمزورې وي او د دوی په خوښه وي. له نورې نړۍ، په ځانګړې توګه هندوستان سره دوستانه اړیکې ونلري، په پاکستان کې له ملت پالو ډلو سره تار ونلري، نه خپل غږ ولري او نه خپله د خپلو ملي ګټو لپاره پرېکړې وکړي او ...
ښه، اوس خو خبره واضح شوه چې پر افغان کډوالو د هغوی احسان بې ځایه دی، ځکه په دې کوربتوب کې یې په وړیا دومره څه ترلاسه کړل او دومره خپل هدف ته ورسیدل چې تصور یې هم نشو کولای.
د دې بحث په دوام اوس دا پوښتنه رامنځته کیږي چې څنګه له دې ګردابه راوتلی شو؟
که له احساساتو کښینو، حقیقي خبره دا ده چې حتا آن هیڅ مسلمان هیواد هم نه غواړي چې په څنګ کې یې د یوې کلمې ورور له دوی پیاوړی، یا حد اقل ورسره سیال وي. که نه یې منئ د ایران عراق جګړه په زړه کړئ، د عراق کویټ حال په زړه کړئ، په یمن کې د ایران عربستان خونړي رقابتونه په زړه کړئ او ...
نو دا د هیوادونو د حکامو او ولس د بیدارۍ او وطندوستي د شعور کچې پورې اړه لري چې څنګه کولای شي ځان پیاوړی او یا حد اقل له کمزورۍ وژغوري.
که هر چیرته هر نظام او حکومت خپل پایښت او ځواکمنتیا غواړي، په لومړي سر کې د ولس رضایت او ملاتړ حاصلول ورته بیخي لازمي دي. دا کار د ستیج له سره په احساساتي ویناو نه کیږي. دا بنیادي کارونه غواړي او هغه دا دي چې:
عدالت باید په بشپړ ډول تامین کړي. داسې چې هیڅوک خپل وطن او د خپل وطن په دولتي ساختار کې ځان پردی ونه ګڼي .
د ولس بنیادي حقوق باید داسې تامین شي چې هیچاته د محرومیت حس لاره پیدا نکړي.
کارونه داسې تنظیم او په مخ لاړ شي چې د وطن او ولس ګټه پکې وي، نه دا چې شخصي ذوقونه خړوب کړي .
د قانون تطبیق باید عام کړي، داسې چې هیڅوک ترې ځان پورته ونشي ګڼلی او یوازې د حق پلوي وي.
پټ او ښکاره اداري فساد له منځه یووسي، داسې چې ډېر کمزوری او غریب هم هره اداره د خپلو حقونو مدافع او ساتوونکې وګڼي .
بنیادي لومړیتوبونه باید درک کړي او ټول تمرکز د همدې لومړیتوبونو په پوره کولو وشي .
په هره کچه مشر ، دا نبوي ملغلره په لاس کې وګرځوي:
"سَیِّدُ القَومِ خادِمُهُم"
یعنې: د قام/ولس، مشر د دوی خادم وي

**د یوه ځواکمن او مستغني افغانستان په هیله!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ